مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۹/۲۲

# د ادبياتو نیاوتون (محکمه)

نورگل شفق د يوه ليکوال په حيث يوه کيسه ليکلې. ځينې خلک داسې ليکنې کيسه ګۍ بولي. له څه مودې په افغانستان کې دغه نوی ادبي ځېل (کيسه ګۍ) دود شوی. ښايي د پارسي ژبې له (داستانک) څخه به راژباړل شوی نوم وي. د نړۍ په نورو ژبو کې داسې ځېل په خپلواکه بڼه نه‌پېژنو، خو تر ښلابېلو ځېل‌ويشونو لاندې يې موندلای شو.

د ښاغلي شفق په کيسه کې د يوه لويديځ‌ميشتي افغان د فرهنګي ټکان Cultural Shock روايت لولو، چې له يوه نوستالژيک درد سره مل بيان شوی دی، نه ليکوال کومه لويه ګناه کړې او نه دا د هغه د شخصي ژوند يا فردي تجربې روايت دی.

نه يې دومره شديد مخالفت بويه او نه داسې ښځايه پلوي، چې په مټ يې ټول لويديځ‌ميشتي وښکنځل شي.
موږ هسې هم د افراط و تفريط ولس يو.

ځينو ښاغليو په ښاغلي شفق پسې د هغه د واده کالهينداره راايستې ده، چې ګواکې په دومره کلونو کې يې لونبې ولې پېغلې شوې دي؟

دا نو تر سادګۍ لږ ورکوز له ادبياتو کورټ بېخبري ښيي.

د فرانځ کافکا په «مسخ» ناولګۍ کې ليکوال د خپل داستاني کرکټر له اول شخص څخه روايت کوي، چې په يوه غټه ګونګټه بدل شوی دی. ګريګوري سامسا وايي: چې سهار راوېښ شوم، ګورم چې ګونګټه يم...

د کافکا هېوادوالو ادبيات پېژندل او کنه ښايي د کتاب د خپراوي په سبا به يې د کور شاته ورټول وای، چې وګورې ايا ليکوال رېښتيا ګونګټه شوی؟

په افغانستان کې که ليکوال د خپل ادبي پرسوناژ له خولې هرڅه وليکي، مسئول يې دی ګڼل کېږي. موږ هغه ولس يو، چې خپل قاتلان له ډاره خپل اتلان ګڼو او ليکوالان، چې د ټولنې تر ټولو ښوزله وګړي دي، ځکه په هره وينا ښکنځو، چې نه‌ورڅخه ډارېږو.

هغه ښاغلي، چې ليکوال په دې غندي، چې که يې د لويديځ خپلواکې نه خوښېږي، نو ولې راغلی؟ ښېرته دې ولاړ شي! اول خو ښايي وپوهېږي، چې د ليکوال نظر ښېل او د داستاني کرکټر هغه ښېل وي. هغوی، چې وايي: نو ولې راتلې، وينا يې په ګڼو دلايلو سمه نه ده، ولې؟

ځکه:
ـ رېښتينې ازادي دا ده، چې د هرچا فرهنګي مشروع ارزښت ته درناوی وشي.

هغه سيکولريزم، چې د عقيدو په وړاندې تاوتريخجن چلند او کرکه روا بولي، پخپله خپل وجودي فيلوسوفي ړنګوي. ازادي، ولسواکي، سيکولريزم يعني دا، چې هر وګړی د قانون تر ټاکليو بريدونو خپلواک وي او خپل انتخاب ولرلای شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دويم، ټول خلک له افغانستان څخه يوازې په لويديزو لېبرالو ازاديو پسې راتښتېدلي نه‌دي، نه په غريزو خړوبولو پسې راغلي دي.

د لسان‌الغيب حافظ په وينا:

**ما بدين در نه پی حشمت و جاه آمده‌ايم**
**از بد حادثه اين جا به پناه آمده‌ايم**

ګڼ خلک راغلي چې کورنۍ په (عزت) دلته زده کړې وکړي، هرڅوک د خپل (عزت) قلمرو پخپله ټاکي او يا يې لږ ترلږه په نړېدلو خامخا رنځيږي .په ولسواکۍ کې هرڅوک حق لري، د خپل عزت پولې وټاکي.

ګڼ خلک له وزګارۍ، لوږې، وېرې او اختناق څخه راتښتېدلي دي. ګڼ خلک د ژوندي پاتېدا لپاره راغلي او ...

دوی به مجبور وي، چې د غرب لېبراله فضا وزغمي، خو فرهنګي ټکان به خامخاويني، له دې چاره نه شته، دا داسې ده، لکه څوک چې د دې ځای له هوا سره حساسيت وکړي. ډاکټر هيڅوک نه ملامتوي، چې که حساسيت دې کاوه، نو نه به‌راتللې. ډاکټر بايد درملنه وکړي. افغانان په نويو ژوندچاپېرياالونو کې له زرګونو فرهنګي ټکانونو سره مخامخ دي، ملامتوئ يې مه، غندئ يې مه! بلکې درملنه يې وکړئ! ملګرتيا يې وکړئ! او زغم ته يې وهڅوئ!

د هغو ښاغليو استدلال هم سم نه دی، چې د ښاغلي شفق کيسه‌ګۍ ته په نغوته، ټول لويديځ‌مېشتي بربنډ، عياش او سپک‌سپانده ګڼي. دلته داسې په زرګونو کورنۍ شته، چې په خورا ځانساتي بڼه له خپلو فرهنګي - اعتقادي ارزښتونو سره سم ارام او هوسا ژوند لري.

ښاغلي شفق فرهنګي واټن او د يوه افغان ټکان روايت کړی، په دې کې يې ګناه څه ده؟

هغه وايي: په وطن کې ښوونځي نه‌شته، پوهنځي نه‌شته، کار، ژوند، داډ او انساني حقونه نه‌شته او دلته راغلي افغانان له دې چاپېريال سره روږدي نه دي، دلته ستونزې دي ...
دا ټولنه د دوی لپاره او هغه ټولنه زموږ لپاره جوړه ده. پر تبعيدي وګړيو، دياسپورا، کډوالۍ او پر بشري لېږد رالېږد سلګونه ټولنپوهنيز، ارواپوهنيز او فرهنګپوهنيز کتابونه کښل شوي دي. اسرائيل، سوريايان، هيندوستانيان، تورکان او... وګورئ!

هغوی نه خپل کډوال شوي ښکنځلي او نه په هېواد کې پاتې شوي، بلکې ټولو ته يې زغم غوښتی، چې په خپل محتوم او محکوم چاپېريال کې انساني ژوند وکړي او ونه‌رنځيږي.

موږ که داسې انساني - علمي هڅه کړلای نه شو، نو نه ښايي په هره پلمه خپل زېرمه شوي ګرومونه (عقدې) په چا وروشيندو.

که ادبيات وپېژنو، اخلاق به هم وپېژنو.

وېښتيا، روښانتيا او بدلون


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ